ماشومانو مقدس کتاب
وړاندې کونکے

دانیال او یو بنکلے خوب



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: Mary-Anne S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2023 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

نبوکدنضر بادشاه یو خوب ولیدو، او هغه خوب هغه ډپر زیات پرېشانه کړو. د خدائ پاک په قدرت سره، دانیال بادشاه ته د خوب تعبیر وئیلو کښې کامیاب شو.



د ټولو نه اول دانیال له
خوب بلکل صحیح
بیانول وو. اے بادشاه، تا
په خوب کښې د یو لوئې
مجسمې او لوئ تصویر
لیدلے دے. او دهغۀ
شکل ډیر ښکلے وو!

د هغه مجسمې سر د خالصو سرو زرو وو، دانیال خپلې خبرې جاري وساتلې.



د هغې سينه او لاسونه
د سپينو زرو وو.



او د هغۀ خیټه د پیتلو نه جوړه وه.



د هغۀ پښې څۀ د اوسپنې نه او څۀ د خاورو نه جوړې وې.



د مجسمې د صورت بیانولو نه پس دانیال بادشاه ته باقی خوب هم بیان کړلو.

دانیال بادشاه ته ووئیل، تا هغې ته
کتل تر دې چې یو کانړے بغېر د لاس
ورورلو نه بغېر کټ شولو.

هغه کانے د هغه
مجسمې په پښو باندې
راپرېوتو کومې چې د
اوسپنې او د خاورې نه
جوړې وې او هغې يې
ټکړې ټکړې کړې.

بیا یې هغه مجسمه خاورو سره
یو ځای کړله او زړې زړې یې
کړه، بیا دانیال ووئیل چې د هغه
کانې نه یو لوئ غر جوړ شو،
او ټوله زمکه یې ونیوله.

بادشاه حېران پاتې شو، ځکه چې څنګه بادشاه خوب لیدلے وو نو دانیال ورته هم هغه شان بیان کړلو. دانیال څنګه پته ولګېده؟ هغۀ ته په دې وجه پته ولګېده چې خدائ پاک هغۀ ته فرمائیلی وو. او بیا دانیال بادشاه ته د هغۀ د خوب تعبیر بیانول شروع کړل.

آسمانی خدائ پاک تا له
یوه بادشاهی، طاقت،
جلال، توانائی او
قدرت، شان او شوکت
درکړے دے.

دانیال بادشاه ته
ووئیل چې هغه
د سرو زرو سر
تۀ یې.



دانیال بادشاه ته ووئیل چې ستا دا بنکلې بادشاهی به ختمه شی. په مجسمه کښې د سپینو زرو د حصې مطلب دا وو، چې یوه کمزورې بادشاهی به د دې ځای ونیسی. او د پیتلو مطلب بله بادشاهی ده، او د اوسپنې او د خاورې مطلب څلورمه بادشاه ده.

اوله بادشاهی

دوېمه بادشاهی

درېمه بادشاهی

څلورمه بادشاهی

په آخر کښې چې دانیال بادشاه ته کومه خبره وکړه نو هغه دا وه چې آسمانی خدائ پاک به یوه بادشاهی قائمه کړی، چې هغه به کله هم نۀ تباه کیږی.



بادشاه په دې باندې پوهه شو
چې خدائ پاک صرف دانیال
له په خوبونو او د هغې د
تعبیر بیانولو حکمت ورکړے
دے. نبوکدنضر دانیال له ډېر
دولت ورکړو او هغه یې په
خپله بادشاهۍ کښې یو ډېر
اهم سړے جوړ کړو.

اولنی،
دوېمه او
دریمه بادشاهی
راغلې ده
او هغه تېرې
شوې دی.
د خدائ
پاک بادشاهی
به د څلورمې نه
پس راځی.
مسیح به
په دنیا
باندې
حکومت
کوی او ډېر زر
به داسې وشی.

دانیال او یو بنکلے خوب

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

دانیال ۲

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولې خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا ربښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲